دیده مرغه تر اوسه پوري ددغي ناروغي دمخنیوي له پاره کوم اغیزمنه دوا یاواکسین نه دي جوړشوي اوتراوسه پوري دعلاج لاري چاري هم نه دي مو ندل شوي خوکه دایډز پرضد یو واکسین هم ومونذل شي ګلونه ګلونه وخت به په کار وي چي دټولو ناروغانو له پاره داستفادي وګر ته راویستل شي خو سایتس پوهان په دي متیقن دي چي تر (۲) کاله پوري به واکسین پیداشي اوکه اوس هم یوواکسین ورانډي کړي شي نودپنځوڅخه ترأتو کلونو پوري وخت به په کار وي چي دضروري آزموینو او تجربو څخه وروسته دعمومي استفادي له پاره چمتوشي.

هغه واکسینونه چي تر اوسه پوري ورته دآزموینې اجازه ورکړشوي ده بشپړه نه دي

په اوسني پړاو کي او بادخوراتلونکو کلونو له پاره دایډز دمخنیوي یواځیني لاره داده چي ټولو خلکوته دایډز دمخنیوي دلارو چارویه باب مکمل معلومات اولارښوونه ورکړ ل شي خرمهمه خبره داده چي دیوانسان نه بل انسان ته دایډز ویروس دخپریدو اوسرایت لاري محدودي کړاي شي

څیړونکي وایي چي دا ناروغي دسطحي تماس له لاري نشي خپریدي لکه د ناروغ سره روغ برکول . په یوکورکي اوسیدل اوبا په یوه لوښي کي دوډي خوړل اوداسي نور خوداناروغي دجنسي عمل له لاري ، د پیچکاري دستنو له لاري اودناروغ دوینې داخیستو له لاري خپریدي شي او که مور دایډز په ناروغي اخته وي نو دهغه ماشوم ته چي دهغه په ګیډه کي وي سرایت کولي شي.

رزیدلي ارمان

په رژېدو چي مي ارمان ښکاري

اوس په سپرلو کښي مي خزان ښکاري

دزړګي بڼ مي لاړتالاوالاشو

اوس تور سپلونه په تارغان ښکاري

هیڅ مي باور په قسمونه شي

پاکه جامه کښي نن شیطان ښکاري

سپرلي به څنګه کړي سمسور داچم

چي بي ایمانه زاهدان ښکاري

نشته ښکلاخوشبوېي سپرلوکښي

اوس له ازل نه موظلمان ښکاري

داخل سپرلي نه به ښکلاغواړو

خبردي که دي کي مو تاوان ښکاري

"یوسفزي "ګوره نصیحت کړي بل ته

اول نقصان بي په خپل ځان ښکاري

اجمل "یوسفزي" داسهاتورمحصل .

دنیاي جوانان

آغاز سخن

د تیریدونکي او نوي تعلیمي کال په هکله :

ځوانانو ته خطاب

په داسي حال کي چي زموږ ځوانان دسږني کال دازموینې ورکولو په درشل کي قرار لري هیواد وال ددغي لویې اوملي انرژي لرونکي سرمایه ، دبریالیتوب په هیله چي د راتلونکي افغانستان د بیرازي اوآبادي لپاره غوره اود داد وړ نیروبلل کیږي لاس په دعا دي هغه ځوانان چي نن سبا په پوهنتونو ،مدارسو او لوړو عالي تعلمي موسساتو کي دهیواد اوملت داباداي اوهوساینې په خاطر ، لګیا دي روزنه اوتربیه اخلي بې له شکه چي دهمدغو سپیڅلواوهوښیارو ځلمانو ډیوهي دخیرکتیا په درلودلو سره دغه وران ویجاړ وطن به ان شا الله دابادیدو په لورګړندي ګامونه اوچت کړي.

که دملت ځوان نسل دملت د مشرانو ترنظارت لاندي دیوي سوچه اسلامي روزني حقوق لري او دملت مشران هم دځوان نسل په نسبت دیوي سالمي روزني مکلفیت پر غاړه لري دبلې خوا نه دملت پرګتي هم حق لري چي د پوهو ځوانانو د پوهي په رڼا کي دیو سوکاله ، بیرازه اودنیکمرغیو څخه ډك ژوند څښتنان وګرځي . اودغه ارمان هله ترسره کیداي شي چي د ټولني زلمیان دربښتیني پوهي له درلودلو سره سره دملت اوهیواد دمسلمو حقوقو مسئولیت دځان دنده او وجیبه وبولي ، ځوانان دځوانو هیلو اوفکرونو په درلودلو سره داانرژي اوجرائت هم له ځان سره لري .چي د ټولني دامنیت ، دجنګ ځپلي دپاي ته رسیدو په هکله څېله علمي ، فکري انرژي په کار واچوي ترڅود ځوان قشر دځوان نظر په رڼاکي دځانځاني،خودخواهي ، انحصار طلبي،ټولي ناولي ریښي دتل لپاره قطع اوټولي شي اوځاي یې ورورۍ ، اخوت ، عزیزولي ، محبت اوخوشحالي ونیسي .

موږ یوځلي بیا د هغو ځوانانو بریالیتوب دلوي او واحدخداي (ج) څخه غواړو چي دازموینې دتیرولو په حال کي دي او دهغه ځوانانو لپاره چي د راتلونکي کال لپاره په اوسني کانکورکي بریالي شوي دي ،دمبارکي سره جوخت دسالمي روزني ، ملت ته دښه خدمت کولو او دوطن د آبادولو لپاره لازیات طاقت اوحوصله غواړو.

ناطق

جوانان ودیدگاه ها

نتیجه حسادت

ارسالي محمد بن ابراهیمي

در زمان قدیم شخصي به نام زید نزد شاه جهان ،بسیارمحبوب ومقرب بود ،یکي ازدوستان زید به مقام او نزد شاه رشك مي برد همین حسادت باعث شد و او راواداشت به هرطریقي که شود زید رابه هلاکت بیفگند از اینرو نزد شاه رفت ، وگفت ! زید پشت سرشما به شما اهانت مي کند ومي گوید که: (دهن شاه بوي میدهد ،) وهروقت نزد شاه میروم دستم را بربینیم میگیرم که ناراحت نه شوم . گفت نخواهد چنین باشد ،اوگفت یکبارامتحان کنید ، شاه گفت :

بسیار خوب،دستور میدهم زید نزد من بیاید شخص حسود درهمان روز موعود غذایي که سیر خام داشت به زید داد وبعد ازخوردن آن به زید گفت،دهانت بوي سیر میدهد وچون نزد شاه رفتي دهانت رابادست بگیر که شاه ناراحت نشود ،زید همانطور کرد . وقتي نزد شاه رفت وکنارش نشست ،هنگام صحبت با دست خود دهانش را گرفت شاه از ظاهر امرچنین معلوم کرد که دوست زید راست میگفته است ،ازعادات شاه یکي این بود که هیچوقت نامه براي کسي نمي نوشت ، مگر درمورد زید شاه براي کسي از فرماندهانش نامه نوشت که به محض رسیدن این نامه گردن نامه رسان را بزن وپوستش راازبدنش جدا وبرایم بفرست ، سپس نامه را به زید داد که به فرمانده برساند ، زید از همه چیز بي خبر بود از دربار بیرون آمد.

دوستش سر راه اورا گرفت واز جریان نامه مطلع شد ولي طبق معمول ،فکر کردکه شاه به نامه رسان جایزه نوشته است باالتماس وزاري واصرار زیاد نامه را از زید گرفت وگفت:چون بافرمانده کاري دارم ، خودم این نامه را برایش میسپارم ،زید نامه را به او داد ، اونامه راگرفت باشتاب نزد فرمانده برد ،فرمانده وقتي نامه را خواند از دستور شاه تعجب کرده وباخود گفت:باید به شاه مراجعه کنم ببینم چرا چنین فرماني صادرکرده است ؟ اما پس از لحظه یي با خود گفت : شاه فرمان داده باید اجرا شود.

دستور داد سر نامه رسان راازبدن جدا کرده، وپوست او را از بدنش جداکنند وتا براي شاه بفرستند ،بعدازچند روزناگهان شاه دید زید برمجلس اوواردشد ،تعجب کردکه من دستور قتل زید راداده بودم ولي اینکه اورا زنده مي بینم ،جریان را به زید گفت ، زیدبه پاسخ گفت: هرگز من اهانتي نکرده ام وچنین حرفي که دهن شاه بوي میدهد هرگز نگفته ام . شاه پرسید پس چرا آن روز نزد من بادست خود جلوبیني ات راگرفته بودي زید جریان سیرخوردن رابیان کرد وگفت که : علت پوشانیدن بیني اش چه بوده است.شاه به نقشه مکتوم،خائنانه دوست حسود زید پي برد ،از اینرو به زید گفت : برو توآزاد هستي ازغلامي،و آنکس خواست ترا به قتل برساند خودش به قتل رسید وچاهي که براي دیگري کنده بود خود درآن واقع شد وهمین است عاقبت حسودان . گفته اند که چاه کن درچاه است،حقیقت است.

قلمه ولیکه

فریدسرخرودي

قلمه ولیکه ! اوهمدااوس بي ولیکه بوه دروناکه پیښه بو غم لرلي داستان بوه نه هیریدونکي افسانه.

خو ... دشهیدانو په وینو.. د یتیمانو په اوښکو. ولیکه دیورنځیدلي پرهرپرهر اولس د خزان شوي بڼ په یانو . ولیکه ! خودهمدغه خزان شوي بڼ او په هغه کښي داوسیدنکو بلبلانو کیسه . هو ! ربښتیا . داسیا د چاودلي زړګي کیسه . د داسي زړګي کیسه چي هر چا پکښي خپلي تووري سري و ازمایلي . دداسي زړګي کیسه چي د نړي ګوټ ګوټ ته یې دوینو ځاځکي والوتل هر چاد هغه دله مینځه ورلو په لار کښي خپل نیولي زین کړ

اوترخپلي وسي یې وځغلاو. ددغه بڼ دطوطیانو عامه وژنه ولیکه دقطبي ځرسانو اودهغوي دایجنټانو دلاسه ددغه بڼ دبې وزلو طوطیانو سیلونه ولیکه چي له خپلو محبوبوځالګیوالوتل اوګروومات پردیو سیموته مهاجرکیدل . ولیکه ! خوددغوطوطیانو د پنجر وکیسي دتعذیبونواوشکنجو کیسي د ویښتلو اودام غزولو کیسي ژوندي ترخاورو لاندي کولو کیسي به پردیو ملکونو کښي . دوربدري اوتکلیفونو کیسي . دماتم اوفریاد ونو اوبالاخره د لوګیواو د اورونو کیسي . ربښتیا هم هغه شین بڼ اوس په کنډواله بدل شوي په

هغه کښي اوس هغه شنه په تسترو ارلګحویت ونګ ونګ غرونه تك تور اوابره ابره شوي په هغه بڼ کښي اوس د بلبلانو ښکلي آوازونه نه اوریدل کیږي هلته اوس هغه کلتوري میلي نه ترسترګو کیږي هلته اوس یواځي اوبواځي ویر، ژړا اوماتمونو ځاي نیولي هلته اوس هره ورځ دلسګونو اوسلګونو جنازي په نظر راځي هلته ورځ په ورځ یواځي هدیري پراخیږي اورنګیني جندي وریاندي ځړول کیږي له هغه ځایه سولي کډه کړي رحم اوعاطفه له زړونو څخه وتلي هلته اوس یواځي د ورانې زیري اوریدل کیږي.

خوتاریخ لپاره ! دراتلونکو نسلونو دعبرت په خاطر دظلمونو اوظالمانو فهرست داسي یې ولیکه چي : ستاسي په ګرانه ځالګي قطبي خرسانویې رحمانه تیري وکړ هغوستاسي نیکونه ووژل په پنجر وکښي یې بندکړل دهغو شتمني یې لوټ کړي اوستاسي نیکونه یې ژوندي ترخاوورولاندي کړل ، خو ... داد چاد لاسه ؟ اودچه لپاره ؟ داد یې ناموسوکمونستانواوترهغود مخه په خواره خوب ویدو په هوا وهوس کښي سترشوبو شهوت پرستو شاهانو دلاسه ! ددي لپاره چي ستاسي په تاتوبي کښي دتل لپاره داسلام پله شوي دیوه په ابدي مرګ ووژني خو لله الحمد ستاسي باغیرته نیکونو دشاهینانو په څیرداسي وتپکول چي همیشه به یې یاد ساتي

جوانان عزیز صابر باشید، پیروز مي گردید

ارسالي عتیق الله عرفان

اي جوانان : این درست است که دولت هاي غربي بطور عموم وامریکا بطورآخص ، اسرائیل رابوجود آوردند ،ودرست است که استعمار در راه بیرون کردن مسلمانان ازدایره اسلام وداخل کردن آنها در حلقه بي دیني وبي بندوباري ازوسایل وطریقه هاي گوناګون کارمي گیرد . درست است که کمونیزم جهاني پلان بزرگي براي ملحد ساختن نسلهاي مسلمان وفاسد کردن اخلاق وعقیده شان روي دست گرفته بود. ویهودیت جهاني پروگرامهاي خطرناك براي از بین بردن ادیان غیر یهودي وتسلط برجهان اسلام داشته ودارد .

امریکا به روسیه ماهانه ۳٦ ملیون دالر را میدهد تاجنگ در افغانستان کماکان ادامه یابد.

زیرا آنها درك نموده اند که جهاد باعث نابودي امپریالیزم روسیه گردید ، هرگاه درافغانستان حکومت نیرومند اسلامي تشکیل گردد منافع استکبار جهاني رادرسراسر جهان تهدید مي کند .

ودشمن دریافته است نور جهاد افغانستان به سایر کشورهاي اسلامي خواهد درخشید

ان شا الله جوانان عزیز ! عنقریب خاقان کفر واستبداد را از بنیاد برخواهند کند وما شاهد پیروزي انقلاب اسلامي درکشور عزیز خود خواهیم بود . دیگر ممکن نیست که دولت ائتلافي با بانکنوت هاي روسي ادامه پیداکند

صبر واستقامت شما همانطوریکه باعث اسقاط رژیم کمونیستي درکشورشد ان شا الله سبب پیروزي محتوم انقلاب اسلامي ونابودي عناصر خود خواه وجاه طلب خواهد گردید.

پاخه فکرونه

آزادي

خپلسري ،اپلتي غزول اوباغیتوب دآزادي له سپیڅلي مفهوم سره چي پر ظلم اوتیري باندي دبرلاسي لپاره درحمت پرښته ګڼل کیږي فرښتګونه واتن لري .

ویلم دوګلاس .

***

چیرته چي دیوچا آزادي پیلیږي ،هلته دیوه بل چا آزادي پاي مومي .

دبشري حقونو اعلامیه .

***

هرآزادي دځینو په خیال یوغیر عادي اوداسي زغمل کیدونکي څیز دي ،لکه په ناولي هواکي رالوي شریوته چي پاکه هوا زیانمنه ده .

مونتیسکو .

***

ژوندي دي وي هغه اولس چي ژوندي دازادي د ژوندي پاییدو لپاره خویش وي.

شیخ محمد خیاباني

***

د زور خاوندان دي داپه غوږکي ونیسي ، چي خپل مخالفین په زور له میدانه ونه باسي

***

آزادي : په خواښیني سره وایم چي ، بشرستا ور اوسزا وارنه دي ...

تورکر .

***

آزادي یوه اولس ته نه راځي بلکي اولس یې باید ترلاسه کړي .

آزادي هغه نعمت دي ، چي براځي پلتونکي یې ترلاسه کولاي شي .

ګرلان

***

دعقیدي آزادي په هرسیاست واکمنه ده .

شیخ محمد خیاباني

ذهني مسابقه

جلال آباد

د امرخیلو لیسي او پیداګوژي تجربوي ترمنځ دپنجشنبي په ماسپښین دري بجي دپیداګوژي دتجربوي په انګرکي دامرخیلو لیسي او پیداګوژي دتجربوي ترمنځ یوه ذهني مسابقه وشوه دمسابقي شروع دقرآنکریم په تلاوت سره پیل شوه وروسته یو تن شاګرد راغلو میلمنو ته یې راغلاست ووایه ، بیا دامرخیل لیسي معاون عبدالعزیز "غیرت" دمسابقي داهمیت په باب خبري وکړي وروسته بیا مسابقه شروع شوه چي په نتیجه کي دامرخیل لیسي شاګردانو دتجربوي شاګردانو ته د $63\frac{1}{2}$ نمرو په مقابل کي په $71\frac{1}{2}$ نمرو وګټله.



در تورنمنت اخیروالیبال :

تیم والیبال (لغمان منصورکلب) به مقام قهرماني راه یافت

جلال آباد :

درتورنمنت والیبال که چندي قبل ازطرف ریاست گمرك ننګرهارجلال آباددایرشده بود ، "۲۸" تیم ازولایات ننګرهار، لغمان وکنرهابه شمول سه تیم ازپاکستان اشتراك داشتند . تیم والیبال «لغمان منصورکلب» درسه مسابقه با تیم هاي والیبال فرقه (۱۱) ،لواي سرحدي نمبریك وتیم ریاض افغان ازپشاور پیروزشدوبه فاینل راه یافت . نماینده گي شوراي جهادي ولایت لغمان گزارش داد درمسابقه قهرماني که بین تیم هاي لغمان منصورکلب وگمرك ننګرهاربرگزارشد، بازي سه مقابل صفربه نفع تیم لغمان منصورکلب خاتمه یافت . جریان این مسابقه را صدهانفربه شمول برادران محترم استاد عبدالله «واحدي» والي ولایت لغمان ، محترم عبدالشکورآمرجبهه «منصورشهید» ، محترم انجنیرعبدالغفار رئیس گمرك و جناب مولوي عطاء الله خارنوال ننګرهار تماشامیکردند، کپ قهرماني وتحایف ازطرف برادران فوق الذکربه ورزشکاران داده شد .

سیدقلندرشاه، سیدعالم شاه مشهوربه جان، محمدعظیم ،بیا ، عظیم الله ، محمدابراهیم ، محمدنادر ،شکرالله ومحمد نایب اعضاي این تیم هستندکه درسه تورنمنت والیبال که درسال ۱۳۷۳ درسرخرود ، فرقه (۱۱) وگمرك دایرگردیده بود برنده شده وکپ هاي قهرماني کمایي کردند .

زه خپل مظلوم ولس ته اطمینان ورکوم چي د ژوند تر آخري سلګۍ پوري به د دوی په څنګ کې یم

د شهادت درنو لوستونکو ! دادي دحزب اسلامي افغانستان دمجاهد امير وروور حکمتيار دهغي عالمانه وينا متن چي دجدي دشپږمي فاجعې په مناسبت يې په چهارآسياب کي يوې لويې غونډي ته اوروللي ده .
اداره .

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته :
الحمد لله وکفي وسلام علي عباده الذين اصطفي وبعد :
فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم : ورد الله الذين کفروا بغيظهم لن ينالوا خيرا وکفي الله المؤمنين القتال وکان الله قوي عزيزا صدق الله العظيم

وروڼو : څوارلس کاله دمخه په همدي ورځ روسي پوځونو پرافغانستان تيري وکړ . په دي اميد چي دکمونست رژيم په خلاف به دمجاهدينو اسلامي مقاومت ختمږي ، او په لږوخت کي به دافغانستان پر اوضاع مسلط کيږي او بيا به دخپلو نورو اهدافو په لوري اطمينان او داډ سره مزيد مخکي دروميږي .هيڅيا ګمان نه کاوه چي د روسي پوځ مخې ته دي مظلوم اوبي وزلي افغان ولس ودريږي اودامقاومت دي دکلونو . کلونو له پاره ادامه وکړي او په پاي کي دي روس په شکست محکوم شي له افغانستان نه وتلو ته دي مجبورشي اوبيا دي دالويه امپراتوري دهمدغه شکست په وجه په زوال محکومه شي اوهغه دي ټوټې ،ټوټې شي .

ددي ورځي په اهميت هلته پوهيدي شو چي د روسي پوځونو دتيري د ورځي عمومي وضعيت ددنيا اوډافغانستان موجوده سياسي حالت په زړا کي وڅېړلي شي . کمونيزم ددنيا يوستر اوخطرناك ځواك ۋ د برلين له ديواله نه د جاپان ترسرحداتوپوري بيادقطب شمال نه تر هند ، چين اوويتنام پوري دا خورور ملك دکمونيزم پايګاه و او هومره لوي نظامي اوسياسي بلاك يې جوړکړي و چي غرب په خپل ټول توان دهغه دمقابلي تصور نشو کولي. او په مقابل کي يې په اروپا کي دناتو په شان لوي نظامي بلاك جوړکړي و چي دامريکا ګڼ شمېر مسلح پوځونه په اروپايي ملکونو کي ددي خطر د مقابلي له پاره مستقر شوي و ددنيا په ټولو تحولاتوکي که دا انقلابونه وي ، که دا عسکري کودتاګاني وي ، که په ملکونو کي تشنجات ، داټول د روس په ايماء ، اواشاره شوي او دکمونيزم لويه ونډه او برخه ده . که په اروپا ، افريقا ، آسيا اولاتيني امريکا کي تحولات راځي، کودتاګاني کيږي ، په هغه کي دکمونيزم ونډه اوبرخه ده .

دامريکا تخرګ کيدياکي مسئله راولاړه کيږي نيږدي دي چي د روس اوامريکا ترمينځ په لويه جګړه بدله شي ، ولي امريکا له روس سره دمخامخ کيدو نه ويره لري . هغه ددي جګړي نه ډډه کوي اوهغه حادثه هم دمسکو په ګټه پاي ته رسيږي ، اقصي شرق کي لبنان امريکا ته ماتي ورکوي دکلونو . کلونو جنګ نه پس د زرګونو مړواوزخميانو نه وروسته په داسي حال کي چي کافي شمېر پوځونه امريکا باتو ليږلي په ويتنام کي ماتي خوري اوله ويتنام نه په وتلو مجبوريږي . په اسلامي ملکونو کي قوي ، منظم کمونستي احزاب جوړشوي ګڼ شمېرملکونه دروس بلاك پوري وتړل شول له هغه ځاي نه دستور ورکول کيږي او اکماليږي ، د پوځ ضروريات او تجهيزات دمسکو له خوا نه صورت نيسي .

غرب دماتي په حالت کي دي ، هغه له اروپا نه هم ويره لري ، چي دا هم دشرقي اروپا په شان شايد ددېري کمې بې احتياطي په نتيجه کي دروس په لمه کي سقوط وکړي .امريکا د زړو رژيمونو نه په دفاع مجبوره شوي چي هرځاي هر ملك کي هغه د سقوط له خطر سره مخامخ دي دهغه په خلاف منظم سياسي ځواکونه را اوچت شوي ، ټول دمسکو نه توجيه کيږي ، داسيا ، افريقا لاتيني امريکا په ټولو تحولاتو کي امريکا په مدار مدار عقب نشيني کوي او ځاي يې کمونيزم (روسانو) ته تخليه کوي .

کمونيزم دخپل قوت آخري مدار اومعراج کي ۋ خو غرب ضعف په انتها کي په دغسي حالت کي په افغانستان تيري صورت نيولي او وجه يې هم ځرګنده ده ، روسانو دا نه منل چي دلمړي ځل له پاره دي يوکمونست رژيم اوځواك دمسلح انقلاب په نتيجه کي نسکور شي .

خوکله چي هغه ګوري کمونستي رژيم نور دسقوط په حالت کي دي دافغانستان اکثره ولسوالي آزادي شوي ، کابل په محاصره کي دي اومجاهدين داخري ګزار له پاره تياري نيسي ،کمونست حزب کي شديد داخلي اختلافات راولاړ شوي ، له يو بل په مرګ ژوبله ديو بل په خلاف په توطيو منتج شوي نو هغه مجبوريږي چي افغانستان ته په پوره غروراوتکبرسره پوځونه وليږي برژنف په همغو ورځوکي اعلان کوي چي دري مياشتي بعد به په افغانستان کي کامل امن اوسوله تأمينيږي ،اوهلته چي کوم تشنج روان دي دا به پاي ته رسيږي ،ولي روسان په دي ونه توانيدل چي افغانستان اشغال کړي ،کمونست رژيم په ولس تحميل کړي او پښي يې ټينګي کړي هغه له افغانستان نه وتلو ته مجبور شو

د روسي پوځونو دراتلو مقدمه د ثور په اوومه ۱۳۵۷ کي ايښودل شوي وه ، کله چي کمونستانو کودتا وکړه او ددي شروع اوآغاز هم دداؤد له خوا دسرطان په شپږويشتمه نيټه کودتاوه . هغه دکمونستانو له پاره لاره هواره کړه دوي په اقتدارکي شريك شول هغه کودتا هم له مسکو نه تنظيم شوي وه .

په هغه کي هم دکمونستانو لويه ونډه اوبرخه وه او ددي دکودتا عوامل هم ځرګند دي . که زمونږ د پوځ تربيه ، تجهيز اواکمال د روسانو په لاس کي نه واي په دومره آساني سره هغوي په افغانستان کي يو په بل پسي داکودتاګاني نشو کولي ددي مسئوليت د هغه رژيمونو په غاړه دي چي په روس يې اتکا وکړه او زمونږ پوځ يې روسانو ته وسپاره اوزمونږ افسران يې دتربيي له پاره مسکو ته ليږل .

کمونستانو په يو حساب د داؤد دصدارت په وخت کي خپل کار پيل کړي اوپه بل حساب په ۱۳۴۴ هـ کي کله چي اساسي قانون اعلان شو اوسياسي جمعيتونو اواحزابونه دفعاليت اجازه ورکړي شوه اوهغه هم دمسکو سره ديو تفاهم په نتيجه کي دکمکونو له پاره مسکو داشرط لګولي و چي دکابل رژيم به کمونست حزب ته موقع ورکوي اويه رسميت به يې پيژني ،هغه ته به دسياسي فعاليت آزادي ورکوي په همدي اساس ،کمونست احزاب جوړشول اودځو کلونو له پاره هغوي په ميدان کي يواځي و . په علمي مؤسساتو کاملاً

که اسلامي تحريك نه واي جوړشوي شايد د داؤد کودتا به هم نه واي شوي او که د داؤد په خلاف زمونږ مسلحانه جهاد نه واي شايد مسکو به داسي ژر دکودتا له لاري دکمونستانو قدرت ته درسولو کوښښونه نه واي کړي .

مسلط ۋ. دهغوي دمقابلي له پاره بل سياسي ځواك نه ۋ.

کله چي مونږ په ۱۳۴۷ کال پوهنتون ته راغلو ومو ليدل چي هر طرف ته به سره بيرغونه اوچت ۋ خودا ټول هغه احزاب اوځواکونه و چي اکثرکمونستي افکاريي حمل کول . له بهرنه تغذيه کيدل په مقابل کښي کوم اسلامي تحريك نه و بيا وروسته اسلامي تحريك شروع شو . که اسلامي تحريك نه واي جوړشوي شايد د داود کودتا به هم نه واي شوي .اوکه د داود په خلاف زمونږ مسلحانه جهاد نه واي شايد مسکو به داسي ژر د کودتا له لاري دکمونستانو قدرت ته درسولو کوښښونه نه واي کړي هغه حالت داسي وليده چي افغانستان دهغوي له لاسه وځي . اسلامي تحريك ورځ په ورځ وده کوي ، په ټولو علمي مؤسساتو مسلطه شوي ، دسياسي فعاليتونو پراخيني پايګاه علمي مؤسسات له لاسه ورکوي ، دمحصلينو په اتحاديې کي په آخري ځل انتخاباتو کي دوه ثلثه آراء اسلامي تحريك ترلاسه کوي . ګوري چي رژيم داسلامي تحريك دمقابلي نه عاجز دي که وضعيت په همدي حالت څو کاله نور دوام وکړي نو په نورمال طوريه اسلامي تحريك پر اوضاع مسلطه کيږي نو ځکه کودتايې وکړه . داود له کودتا نه وروسته پخپله لمړي خطابه کي اعلان کوي چي د هغه دانقلاب انګيزه همدا وه چي مترقي قوتونه تهديد بدل اويه اصطلاح دارتجاعي قوتونوځوا نه هغوي ترتهديد اوخطر لاندي وو، له مترقي ځواکونو نه ددفاع په خاطرهغه انقلاب ته مجبورشوي ،اوتاسووليده چي کله روسي پوځونه افغانستان ته راځي همدغه بهانه وړاندي کوي . چي امين دحکمتيارسره ليدلي دي اوديوکودتا پلان جوړشوي ،دکمونستانو په خلاف يو وسيع اوخطرناکه توطئه جوړه شوي او روسان مجبور ۋ چي افغانستان ته پوځونه راوليږي کله چي کمونستان عملاً قدرت ترلاسه کوي مونږ لا دمخه آماده ۋ ،مسلح افراد مودرلودل دګوريلايي جګړو تجربه مودرلوده، د داؤد په خلاف زمونږمسلحانه مقاومت پيل شوي ۋخداي خبرکه د داود په وخت کښي مونږمسلحانه جهاد نه وي پيل کړي اويه همدي حالت کي کمونستان قدرت ته رسيدلي واي دافغانستان انجام اوسرنوشت به څه ۋ.

لله الحمد، الله (ج) لطف اوفضل وکړ مونږ د داود په وخت کي خطرته متوجه شولواوشهادتونو ، هجرتونو اود مسلحانه جهاد سلسله همغلته پيل شوه .

همدا وجه وه چي په نهم دثور مونږوتوانيدلو چي دافغانستان په ګوټ ګوټ کي مقاومت عملاً پيل کړواوبيا دهغه له پاره تياري ونيسو . د پکتياد زيړوك نه زمونږمسلحانه مقاومت د ثور په نهمه دکمونستانو د کودتا نه دوه ورځي وروسته پيل شو اودکمونستانو دتسلط په دي ټوله اوږده موده کي مونږ په

ډېر کسان چي نن ځان ته داسلامي احزابو رهبران وايي دانظروړاندي کاوه چي مونږ داسلامي جهاد تر نامه لاندي دامقاومت نشو کولي بايد دآزادي دجنګ ترنامه لاندي دلته مقاومت پيل کړو او زعيم بايد هغه څوك وټاکل شي چي غرب ته دمنلو وړ وي

ذاتي امکاناتو دامقاومت جاري ساتلي او دادهغو قطعاتو په امکاناتوادامه پيداکړي چي له مجاهدينو سره يوځاي شوي وو، د اته لسومياشتو په جريان کي دافغانستان اکثر ولسوالي آزادي شوي ،مقاومت کابل ته ورسيدواوهلته هم هره شيبه ددي احتمال ۋ چي له داخل اوبهرنه ديوګډ اقدام په نتيجه کي کابل دمجاهدينو په لاس کي پريوزي په داخل کي نورداسلامي تحريك په وړاندي خنډونه اوموانع ختم شوي ۋ ،کمونستانو دمقابلي توان له لاسه ورکړي ۋ د روسان صحني ته راوړاندي شوي ۋ د روسانو دراتلو په وخت کي هغه کسان چي همغو شپوورځوکي په جهاد کي مصروف ۋشايد نه يې په ياد وي چي له ډيروسره داذهنيت ۋ چي نورودافغانستان قصه تمامه شوي ،دلته دمقاومت ادامه امکان نه لري اوکه څه کوو هم بايد د غرب په مرسته وي. بايد د امريکا د نوپوښتواوټانکونو تر راتلوپوري انتظاروکړواومقاومت ته به دغسي صبغه او رنګ ورکړو چي دغرب هملږدي جلب کړي شو. بايد ددغسي يوقيادت لاندي ،دامقاومت پيل شي چي غرب ته مقبول وي ديوداسي عنوان اوصبغي لاندي چي غرب له هغه نه احساس دخطرونکړي ډيروچي نن ځان ته داسلامي احزابو رهبران وايي همدانظروړاندي کولوچي مونږداسلامي جهاد ترنامه لاندي دامقاومت نشو کولاي بايد د آزادي د جنګ ترنامه لاندي دلته مقاومت پيل کړواود دي رهبري له پاره هم داسي څوك انتخاب کړو چي ملت وړياندي راغوند شي اوغرب ته مقبول وي ترڅوپه دي ترتيب مونږوتوانيدلي شوچي غرب وسيع اوبي دريغه مرستي جلب کړو اود روسانو مقابله وکولي شو ، ولي هغه څوك چي په خداي (ج) يې ايمان و، الله(ج) يې ځان ته کافي ګڼلواوخداي (ج) سره يې د قرباني عهد کړي ۋ.دالله (ج) ددين د بري په لاره کي يې جهاد خپله فريضه ګڼله او ددي پروا اوباك يې نه لرلو چي دهغه دمبارزي اوجهاد انجام او عاقبت به څه وي، هغوي دا جهاد پيل کړ ، هغوي دقرباني ميدان ته ودانګل . دهغوي په خداي (ج) اعتماد ۋ ،الله (ج) يې ځان ته کافي ګڼلواو يقين يې درلود ، چي پدي مبارزه کي به بري ترلاسه کوي . شايد ډيرو ته دتعجب وړوي چي مونږ لا هلته ويل چي روسان به دافغانستان نه وځي اود انګريزانو په سرنوشت به اخته کيږي لکه چي انګريزانو هم افغانستان کي ماته وخوړله ، هغه لويه امپراتوري چي لمريه کښي غروب نه کولوپس له څوکلونو په يوه وړوکي جزيري بدله شوه

ويل مو چي تاسو به وګورئ چي روسان به همداسي دافغانستان نه وځي او له همدي انجام اوسرنوشت سره به مخامخ کيږي . په خداي (ج) مو ايمان ۋ ، دا مو باور ۋ او چي هر څومره سخت حالت راغلي زمونږ په دي يقين اوباور کي شك نه دي پيدا شوي همداسي وشول دا جهاد همغوخلکوداايمان په زورشوي ، دهغوي دقربانيو په نتيجه کي دي مرحلي ته رسيدلي چي هغوي خداي (ج) ځان ته کافي ګڼلو، دايمان په حکم يې داجهاد پيل کړي ۋ،دڅامرستي ته يې سترګي نه دي نيولي . په بل چايي اتکا نه ده کړي شايد ډيرونه دا هم دتعجب وړوي چي مونږ په هغه وخت هم د روس اوامريکا په خلاف يو شان مبارزي باندي تاکيد کولولېکن دډيرو توصيه او سفارش داۋ چي په داسي حال کي چي زمونږ ملك اشغال شوي ، د روسانو (۱۷) فرقي پوځ زمونږپه ملك کي مستقرشوي . په داسي وخت کي دغرب په خلاف دامريکا په ضد موشعارورکول داسياسي غلطي اواشتباه ده بايد ددي مخنيوي وشي ولي زمونږ دمجاهدينوسره همدا تصور و چي مونږ نه بايد دااشتباه وکړو چي د روسي پوځونو له وتلو نه بعد داخالي ځاي بويل لوي طاقت ونيسي ديوه نه آزادشواوديل په اسارت کي پريوځو،بايد دي خطرته مخکي له مخکي خپل ولس متوجه کړو

هغه بايد له بل نه طمع ونه لري .په بل متکي نشي اودواقعي آزادي له پاره وجنګيږي ، داسي نه چي ديو لوي طاقت په خلاف ديل طاقت په مرسته وجنګيږي ، فلسطينيانودا اشتباه وکړه ،دفلسطين آزادي يې دمسکو په مرسته غوښتله وګوري چي انجام يې څه شو، هغوي که دغرب ګوداګي اسرائيلو مقابله کوله خود روس په ايماواشاره . نن ګوري چي هغوي سازش کوي اودهغوي د سلطي اونظارت لاندي په يوه محدوده خاوره کي په اصطلاح خودمختاره حکومت باندي اکتفا کوي . هغوي حتي دخپل ملك له سرحداتو نه هم وشړلي شول او اوس داسرائيلو په وړاندي سرټيټولو ته مجبور شوي که مونږ هم همدا غلطي کړي واي خداي خبرچي څومره مخکي نه زمونږ په قضيي دمسکواوواشنګټن ترمينځ روغه جوړه شوي وه خو دهغوي په ګټه نه زمونږ دولس په ګټه

اولکه چي الله (ج) دهغوي لويي جګړي په ارتباط فرمايي : د عربو په تاريخ کي دلمړي ځل له پاره دمديني داشغال له پاره ترټولو لوي پوځ برابرشوي اومدينه منوره محاصره شوي . پيغمبرعليه السلام اوياران يې ځان مجبور ګڼي چي له داخل دمديني نه دفاع وکړي . خندق باسي همغه پوځ ته چي الله (ج) شکست ورکړي ، دهمغه لويي پيښي په ارتباط فرمايي ورد الله الذين کفروا بغيظهم لن ينالوا خيراوکفي الله المؤمنين القتال وکان الله قوي عزيزا .

او الله (ج) کافران دخپل غيظ اوغوسي سره سره په شاوتمبول اوالله (ج) مؤمنانو ته په قتال کي کافي شو او الله (ج) قوي اوغالب دي.

دهمدغه آيت مصداق مونږ دافغانستان په جهاد کي اودلته دروس په ماتي کي ګورو ،الله(ج) روسانو ته د خپل ټول غرور ،تکبر غيظ اوغضب سره ،سره ماتي ورکړه ،هغوي يې په شاوتمبول

له افغانستان نه يې په بيرته وتلو مجبورکړل اويه دي جنګ کي خداي (ج) مؤمنانوته کافي شو . يقيناً چي خداي (ج) قوي اوغالب دي د روسانو د راتلو په وخت کي دنورو دريغ همداؤ ، بايد دغرب مرستي ته انتظار وکړي اوداسلامي جهاد ترنام لاندي بايد مبارزه پيل نشي اومونږ، که مقاومت کوونو دآزادي د جنګ ترنامه لاندي به بايد دا مقاومت پيل شي اوددي له پاره هم داسي يو زعامت اوقيادت وټاکلي شي چي هم دقومونو مشران په هغه راغوند شي اوهم غرب په هغه قانع شي اوخپلي بي دريغي مرستي ورته سپموي ولي زمونږ موقف داؤ چي د اسلامي جهاد ترنامه لاندي به د خداي (ج) په اعتماد اوتوکل دا جهاد شروع کوودروسانو په موجوديت کي هم تاسو وليدل چي ډيرواوريدله ونه وکړل ،ډيرويروتوکولونه درلودل، چاپټ اوچا ځرګند ،چاد هغه له پاره دلايل وړاندي کړل اوڅوك په دي اوريدنواوپروتوکولو شرميدل ولي لله الحمد دحزب اسلامي زړورو ، غيرتي اوباايمانو قوماندانانو دا تورداغ قبول نکړ. په پټ اوڅرګند دوی يې دروسانو سره داوريدنه ډډه وکړه .د روسانو دتلو په وخت کي هم تاسو ته به په ياد وي چي غرب همدا ويل چي بايد روسانوته دوتلولاره ورکړو ،پريږدو چي هغوي په ابروسره ووځي ،نورو په دي اصرار کاوه چي بايد د روسي پوځونو د وتلو په دوران کي په هغوي ډزي ونشي ولي زمونږ موقف داو چي داخري روسي ترووتلو پوري بايد جنګ ادامه وکړي اوچي آخري پوځ اوفرد يې هم زمونږ له سرحد نه تيريږي بايد دمجاهدينوپه ډزواستقبال شي .

مونږ غوښتل دنياته وښيو چي روسان زمونږ دجنګ په نتيجه کي وتلي نه په خپله خوښه او نه دا چي د روس اود امريکا ترمينځ دسازش اوياداشنګټن دسياسي فشار په نتيجه کي ،مونږ غوښتل چي ددي جهاد حقيقت اواعتبار خوندي پاته شي اومونږ دنيا ته وښيو چي دجهاد سره آزادي ترلاسه کيدي شي . په جهاد سره دلويوطاقتونو له استعماراوتسلط نه آزادي ميسره ده غوښتل مو چي جهاد يوکامله تجربه وي ، اوداد نورو ملتونو له پاره هم د آزادي لارشي.

د روسي پوځونوله وتلو نه بعد تاسو وليدل چي نوروډيرودنجيب ملي مصالحه قبوله کړه ،ځينولاد روسي پوځونو دوتلو لمړيوشپواوورځو کي او ځينو لږ وروسته ولي مونږ د نجيب داملي مصالحه ردکړه اواعلان مو وکړ چي هرډول تفاهم روغه جوړه ،اوريند ، دکمونستانوسره جرم او خيانت دي ، دملت او داسلامي جهاد سره خيانت دي ،نوروله کمونستانو سره دائتلاف لارغوره کړه ولي مونږ دمقاومت لاره ،اواعلان مو وکړ چي هغوي به بلاقيد اوشرط قدرت پريږدي مونږ کمونستانو ته په قدرت کي دپاتي کيدو اواشتراك هيڅ مجال نه ورکو . دکمونستانو له پاره دا نيږ جنايت کفايت کوي اوس که هغوي ته عفو اعلان شي دا به دمجاهدينو ډيره لويه پېرزوينه وي .زمونږ جرم همداؤ نوځکه زمونږ پرخلاف يوائتلافي جبهه په داخل اوبهرکي جوړه شوه په دي شرايطو چي دمجاهدينو له حملي نه ځينوکسانو دمسکوسره داوعده چي حزب اسلامي به په قدرت کي نه شريکيږي ،کابل ته دننه وتلواو په اقتدارکي به داشتراك مخه يې نيول کيږي اودا چي ټول کمونستان په پخپل حالت کي پاتي وي

محکومو جمهوريتونو کي به لاسوهنه نه کيږي دهغوي دقيامونو مرسته اوتعاون به نه کيږي اودا چي له روسانو سره به زمونږ سابقه نظامي قرارداد په خپل حال وي دپوځ تربيه به مسکو کي کيږي ، زمونږ دپوځ اکمال به په روسي وسلوکيږي . دا د دي تعهداتوهغه عمده ټکي وو چي په مسکوکي په دي امضا شوي ،اومونږ ته هم ددي پيشنهاد شوي ، دکورباچوف مشاورين راغلي همدا پيشنهاد يې کړي ولي مونږ ورته درد ځواب ورکړي ،مونږ ويلي چي ائتلافي حکومت نشي جوړيدلاي د افغانستان دمسئلي حل صرف په دي صورت کيدي شي چي دټولو په اتفاق يومؤقت حکومت جوړشي او بيا قدرت هغه ته انتقال شي بيا څه موده وروسته په مناسب فرصت کي انتخابات ترسره شي ،کمونستانو ته عمومي عفو کفايت کوي

زمونږ په خلاف دا جبهه جوړه شوه ، زمونږ پرضد داجګړه پيل شوه . خداي (ج) خبرچي که مونږ په دي جګړه کي مقاومت نه وي کړي دافغانستان انجام به څه و ، دمجاهدينو سرنوشت به څه و تاريخ به وروسته قضاوت کوي . زه مطمئن يم چي ډير ژر به دا مرحله تيريږي له هغه وروسته چي څوك د افغانستان حوادث څيړي هغه به بيا په دي قضاوت کوي چي که زمونږ دمجاهدينو مقاومت نه واي ،دافغانستان سرنوشت به څه و !! زه باورلرم چي که دا مقاومت نه واي نود دوشنبي تجربه پر کابل تکراريده ، په کابل کي به دوباره دلته مودي پس کمونستان مسلط ۋ.ما ته روايات چي د پوځ لوي درستيز دنجيب دوخت لوي درستيز وي ، چي د کابل دګارنيزون قوماندان دنجيب دوخت دګارنيزون قوماندان وي چي دکابل امنيت ټول دهغه کمونستانو په لاس کي وي ،چي خاد دخپلو ټولو ادارو پرسونل سره پر اوضاع مسلط وي ،ټول استراتيژيك نظامي ځايونه دهغوي په کنټرول کي وي ، اوپه دي تعهد شوي وي چي ټول کمونستان به مخصوصاً په پوځ کي په خپلو ځايونو کي ابقاکيږي.

محدود شميرمجاهدين دميلشو په شکل داخل شوي ، چي په کابل کي هم ګرځي بايد

دفرانسي سفيرمانه اعتراف کوي چي زمونږ دملك ته دامرستي کيږي خود شخصي حلقونه ،ما هغه ته نومونه اخستي (ويبر) څوك دي ؟
ستادوزارت خارجه يوماموردي ، ستا مخابري څنګه شوراي نظار ته ورکول کيږي ، هغه ځواب نه درلود.

هغوي کارتونه له ځانه سره ولري ،اودهغوي هره پوسته بايد دوه دري ځلي تلاشي ورکړي چي که وضعيت همداسي پاتي شوي واي اومقاومت نه واي شوي په افغانستان کي به څه راتلل ؟ په دي کي هيڅ شك نشته چي کمونستان به دوباره مسلط کيدل . د هغو مجاهدينو دقربانيو په نتيجه کي داخطرناکه بين المللي توطيه شنډه شوي چي په پوره بصيرت سره يې دخپل ايمان په حکم سنګرونه تاوده ساتلي ، دتبليغاتو تر تاثيرلاندي نه دي راغلي ، دا چي د اسلامي دولت تراني ويل کيږي اوسوريبرغ په شين بدل شوي په دي نه دي دوکه شوي ، هغوي هدفمندانه مقاومت کړي، داورنه جفا او جرم معلومېده چي پس له څلوارلس کاله مسلسل اسلامي جهاد اودېوليم مليون شهداوودورکولونه وروسته بيا هم ملت پراځي پريږدي اوله وسلي نه لاس واخلي، سنګرونه تخليه کړي او پريږدي چي افغانستان دغسي سرنوشت سره مخامخ شي د دغوشازلو دقربانيو په نتيجه کي دغه خطرناکه توطيه شنډه شوي

ددغو کسانو نومونه به زمونږ په تاريخ کي په زرينو الفاظو ليکل کيږي .شايد د روس دتيري په مقابل کي مقاومت به دومره ګران نه وي لکه داسلامي دولت ترپوښش لاندي چي قدرت د کمونستانو په لاس کي دي اوستاولس هم دحالاتو اوواقعيتونو نه بي خبره وي. اوستا په خلاف هم جدي اوشديد تبليغات روان وي چي د اقتدار له پاره جنګيږي ، دي ته نه دي متوجه چي ددي جنګ تقدس ترسابق نه هم زيات و څکه داآخري جګړه وه ، دادسرنوشت ،اودېوليم مليون شهيدانو دوينو نه ددفاع اودهغوي دمقدس ارمان نه ددفاع جګړه وه که داجنګ نه واي داقرباني توټي هدر تللي وي

ها نه دهغو کسانو مقاومت دلري ورځو ترمجاهدينو نه هم ډير ،ډير دقدروړمعلومېږي چي په دغسي شرايطو کي په پوره بصيرت ،صبر ، زغم او استقامت سره سنګرونو ته راوړاندي شوي اودهغوي يوخطرناکه توطيه يې شنډه کړي ده .

دشمنان وتوانيدلي شول چي ځينو بي عقله ،جاه طلب دقدرت حريص عناصر استعمال کړي اودهغوي په لاس دغه خونړي جګړه زمونږ په ولس تحميل کړي له مجاهدينو نه انتقام

دکمونستانو دتسلط په دي ټوله اوږده موده کي مونږ په ذاتي امکاناتو دامقاومت جاري ساتلي اودا دهغو قطعاتو په امکاناتو ادامه پيداکړي چي له مجاهدينو سره يوځاي شوي و .

واخلي ، پريښږدي چي په افغانستان کي اسلامي حکومت قائم شي داګډه توطيه وه په دغه مرحله کي مونږ د دوارو لويوطاقتونو دګډ سازش سره مخامخ وو .مخکي يواځي د روس مقابله مونږ کوله،دنورو زياتوله مونږ سره همدردي وه کم له کمه خپل مصلحت يې په دي کي لتولو چي په اخلاقي اوسياسي لحاظ زمونږ تائيد وکړي زمونږ بري اود روس شکست يې دځان په ګټه ګڼلو .غوښتل يې د ويتنام انتقام واخلي ، داالوي خطر منتفي شي روسان دلته مصروف وساتي ،څوبل ځاي کي هغوي ته مشکلات راپيدا نکړي . په دي خاطر يې زمونږ په نسبت همدردي درلودله ،اودا يې نه غوښتل چي روس دي پر اوضاع مسلط شي . مقاومت دي وتکوي . دني په دغه دوه کاله اوه مياشتي کي مونږ ديوي ګډي توطيي سره مخامخ وو . دا عجيبه نه ده چي فرانسه هم کمك کوي ، مسکو هم کمك کوي او دهلي هم کمك کوي ماته هغه يوه ورځ دفرانسي سفيرراغلي و ويل يې چي زه غواړم ستاسي ترمينځ منځګري توب وکړم ،ماوويل تاسو طرف ياست دمقابل طرف سره مرسته کوي سياسي ،اخلاقي مادي ، مالي نظامي مرسته کوي ، هغه پدي اعتراف کوي چي دامرستي کيږي خوشخصي دي . مخبي حلقي يې کړي چي مونږ وړاندي اعتراض لرو

دفرانسي سفيرمانه اعتراف کوي چي زمونږ دملك نه دامرستي کيږي خود شخصي حلقو نه ،ما هغه ته نومونه اخستي (اوليبر)څوك دي ستاد وزارت خارجي يومأموردي ،ستاسي مخابري څنګه شوراي نظار ته ورکول کيږي ،تاسي نظامي مرستي کوي ، هغه ځواب نه درلوده

مونږ ديوي ګډي توطيي سره مخامخ وو لله الحمد داتوطيه شنډه شوي اواوس آخري شيبي دي ،آخري لحظات دي ، زه متيقن يم چي مونږ د وروستي لتحي په درشل کي يو ،مونږ به په دي مرحله کي هم ان شاالله صحنسي بري ترلاسه کړو لکه د (۱٤) کلونو جهاد مقاومت اونهضت په مختللو پړاوونو کي چي له حوادثو نه تير شوي يو، سرلوړي اوکامياب يو

اوس زمونږ دشوراي عالي هماهنګي دريځ دادي چي

بايد جګړه پاي ته ورسيږي ،افغانستان کي پايه داره سوله اوامن تأمين شي ، دټولو اړخونو په توافق بايد يومؤقت حکومت جوړشي داسي حکومت چي ټولو ته دمنلو وړ وي . دداسي شخصيتونو نه چي په دي داخلي جګړو کي يې برخه نه وي اخيستي داقتدار له پاره کانديد نه وي ،متنازع فيه نه وي ټولو اړخونو ته دمنلو وړ وي . مؤقت حکومت ته دي صادقانه اقتدار انتقال شي ، بيا دي ټول احزاب په اخلاص اوصداقت سره ددي مؤقت حکومت مرسته وکړي ، او پريږدي چي پراوضاع مسلط شي . اوريند اعلان ، لوي لاري پرانستلي شي ، ښارونه لوي لاري ،بندرونه ،ټول دهمدي مؤقت حکومت ترتسلط لاندي وي ،کابل دي غيرنظامي شي ،له ټولو لوبډلو نه دي درني وسلي ، پوځونه اومسلح قطعات ووځي بيا دي په راتلونکي کال کي انتخابات ترسره شي ، احزاب دي په دي تعهد وکړي چي له دي وروسته به دکودتا ګانو له لاري قدرت ته درسيدلو هڅه نه کوي ، دروس اوامريکا په مرسته به دقدرت دلاس ته راوړلو کوښښ اوډيويل دختمولو هڅه به نه کوي .بايد تعهد وکړي چي يو بل زغملي شي ، سياسي احزاب په سعه صدرسره يوبل تحمل کړي شي . رقابتونه دي سياسي مسالمت آميز شي ، وسلي دي يوي خواته پريښودلي شي ، ديوبل پرخلاف قدرت ته درسيدلوله پاره دي وسله استعمال نشي ، دانرخي خونړي تجربي دي دوباره تکرارنشي ، واقعي امن دي په افغانستان کي تأمين شي .

مونږ په دي اصل باورلرو چي حکم خداي (ج) لره دي " ان الحکم الا لله" حکم نه دي مګرالله (ج) لره ۋ اوالله (ج) دااختيارولس ته سپارلي چي هغه دغه الهي امانت چي څوك اهل ګڼي هغه ته وسپاري . مونږ غواړو دغه اصل احيا شي ، زعيم دولس په خوښه وټاکلي شي ،ولس ته ددي موقع ورکړي شي چي هغه خپل سرنوشت په خپله وټاکي . هغه به جګړي پاي ته رسيږي چي څوك په زورپه ولس دحکومت کولو کوښښ ونکړي ،که حکومتونه دولس په خوښه جوړشي ،دفشار ، جبر اواکراه نه پرته دسازشونو نه پرته جګړه پاي ته رسيږي دازمونږدريځ دي . دادشوراي عالي هماهنګي دريځ دي ،شوراي عالي هماهنګي سوله غواړي . شوراي عالي هماهنګي لکه څنګه چي وتوانيدلي شوه د ډيرو مليشو ترمينځ له پرخطرناکي فتني مخه ونيسي پريښودي چي مليشونه ديوبل پرخلاف وجنګيږي ،پښتون ،هزاره ،ازبك اوتاجك ديوبل په خلاف وجنګوي شيعه اوسني ديو بل پرخلاف وسله واخلي ،داخطرناکه توطئه يې شنډه کړه او نن شوراي عالي هماهنګي زمونږ دملي وحدت ضامن ده . همدا راز د افغانستان دبحران دحل په ارتباط هم هغه واضح اوعادلانه دريځ لري .

ولي راشي وګوري چي مقابل طرف څه غواړي مقابل طرف په اقتدار کي دپاته کيدو له پاره دهيڅ جفااوظلم نه دريغ ونکړ ، مليشونه جنګول ،دشمال اوجنوب په نامه فتني راولاړول ، د سني اوشيعه ترمينځ شخري راولاړول جګړي ،دکابل وراني ،دزرګونو بي ګناه خلکو قتل ،مرګ ،ژوبله ، روس ته لاس اوږدول ، هند ته لمن نيول ، داسلام دتاريخي دښمنانو سره سازش کول هغه په هرقيمت په قدرت کي پاته کيدل غواړي

هغه په دي لاره کي هرڅه جايز ګڼي ،هغه له دي څخه ويريږي چي ملت دي خپل سرنوشت په خپله وټاکي ،ملت ته دي دخپل زعيم اومشر دټاکلو موقع ورکړي شي ، هغه دخپلو کړو وړو په اړه کي خپله خبره ډيره ګرځيږنه اوخپل انجام ډيرروخيم ګوري ،هغه نه دي ويريږي چي په افغانستان کي دي سوله تامين شي ، امنيت دي راشي ، انتخابات دي ترسره شي ، هغه په جنګ کي خپله بقا ګوري ،هغه پوهيږي چي د بهرنه مرسته دجنګ په خاطرورسره کيږي

هغه سره په همدي خاطر له بهرنه مرستي رواني دي چي دوه په ... سله په افغانستان کي جنګ او بي امنيتي ده، اوداسلامي حکومت دجوړيدو مخنيوي شوي ،هغه په سوله کي خپله نابودي ،اوپه جنګ کي خپله بقا ګوري ،په همدي خاطر هغه په جنګ اصرار کوي ،دادي ګوري چي موده يې پوره شوه،دمشري محکمي ديوګمناه مامورنه يې داوغوښتل چي دهغوي موده ... کړي دا هم وشو ، هغه موده هم پوره شوه په هرات کي جعلي قلابي شوراګاني په رشوتونو جوړه کړه . اعلان يې وکړ چي دمؤقت دورې له پاره کانديد نه دي ولي ټول مصارف ددي له پاره و چي يوڅومياشتي نور هم هغه په قدرت کي ابقا کي ،ګوياله هغه نه په هرات کي وغوښتل شو چي دده وجود ضروري دي ،که نه دقدرت خلا راميڼځ ته کيږي بايد دري مياشتي نور په اقتدار کي پاته شي . هغه دري مياشتي هم دعقرب په لمړي نيټه پوره شوي بيا يې دي موده کي هغه استدلال نه کاو ويل يې چي هغه استعفا نه تياردي خوپوي قانوني مرجع ته تيره شپه هغه اعلان کوي چي دولت دي نه تياردي چي قدرت يوي قانوني مرجع ته انتقال شي کابل ته رهبران بلل شويدي هغه پوهيږي چي رهبران کابل ته نه ځي يوولايت هم کابل ته نمايندګه نه ليږي او پوهيږي چي دلته جلسه نه جوړيږي .هغه په خاص طور د حزب اسلامي نوم اخلي ، چي هغه ته بلنه ورکوي ، ولي داخبري لا پاي ته نه دي رسيدلي چي په همغه خبروتو کي فقط څو ثانيي بعد وايي چي په نورستان کي فلان ،فلان قوماندان سلوکسانو سره له يو ا ۸۲ سره دولت سره يوځاي شوي اواعلان يې کړي چي د مليشو په خلاف به هغه ددولت په څنګ کي جنګيږي ،دا دهغه دسولي پيغامونه دي ، اعلان کوي چي مونږ عالي رتبه هيئت ليږلي خو مونږ داعالي رتبه هيئت تر اوسه نه دي ليدلي ، په دروغو دا هم وايي چي حزب اسلامي نه غواړي چي صادقانه مرسته وکړي . په داسي حال کي چي خپله دهغه شولي خبري ريا او دروغ دي . هغه دمسئلي حل نه غواړي ، او په هر صورت په قدرت کي پاته کيدل غواړي.

زمونږهدف دادي چي په افغانستان کي سوله تأمين شي مونږ خپله بقا په سوله کي ګڼو ،مونږ په سوله باورلرو، په خپل ولس اعتماد لرو، مونږ دا دولس حق ګڼو په دي موعقيده ده ، دا زمونږ سياسي دريځ نه بلکي اعتقادي موقف مودي ، دعقيدي په حيث داوايو چي دزعيم دټاکلو حق دقوه دي هرڅوك چي په زوراوسازش په ملت مسلط شو دهغه اقتدار دجبردي اوداسلام له نظره هغه مسلم نه دي ،هغه قانوني اوشرعي زعامت نه دي . مونږ دحزب په داخل کي هم په انتخاباتو باورلرو، په ولس کي هم دانتخاباتو غوښتنه کوو ،مونږ دنجيب حکومت دآخري شپو ورځو نه تر نن پوري همدا وايو چي راځي ټول په يو مؤقت حکومت توافق وکړو رهبران دي په دي حکومت کي برخه نه اخلي ، ددي حکومت کابينه دي په احزابو نه ويشل کيږي . دشپږ مياشتو له پاره داسي ،بې طرفه اومصنځ مقتدر جمهوررئيس وټاکو چي نه جهادي سابقه ولري هغه دي بيا يوه کابينه جوړه کړي اوهغه ته دي واقعاً ټول اقتدارانتقال شي . دهغه زعامت قيادت اوتسلط به ټول افغانستان کي دزړه له کومي ومنو ، بيا په دي موده کي ملت ته ددي موقع ورکو چي هغه راتلونکي زعامت وټاکي اوداديو اصل په حيث قبول کړو.

دنجيب دحکومت له نسکوريدو نه دمخه چي مونږ داطرح وړاندي کړي تراوسه پوري په همدي دريځ ولاړيو داشوراي عالي هماهنګي موقف دي . اوس هم همدا خبره کوو دسولي هيئتونو ته موهمدا ويلي .

زه خپل مظلوم ولس ته ددي خبري اطمينان ورکوم چي د ژوند ترآخري سلګۍ پوري به ددوي په څنګ کي يم . حزب اسلامي به ددوي په خدمت کي وي ، مونږ به خپل مظلوم قوم يواځي پرينږدو ، دسازشونو اوتوطيو په وړاندي به يې يواځي پرينږدو ، پري به نږدو چي څوك دي په زوره وړياندي حکومت وکړي ،مونږ ددي موضوع په ارتباط تعهد لرو ، چي دملت دخوښي منتخب اسلامي حکومت به په افغانستان کي جوړيږي دملت په څنګ کي به زمونږ قوتونه تر آخري سلګي پوري په سنګرونو کي وي.

مونږ داخيانت اوجفا ګڼو چي ملت د بي امنيتي ، غارت،چور ،چپاول ظلم ، استبداد په تورو تياره کي پرېږدو زه نه پوهيږم چي بيا به خداي (ج) ته زمونږ ځواب څه وي او خپل موقف به څنګ توجيه کړو.

ان شاءالله دا جهاد به ترهغه ادامه کوي ، چي په افغانستان کي دملت دخوښي اسلامي حکومت جوړشي

زه سياسي احزابو ته هم ددي داډ اواطمينان ورکوم چي مونږ دهيڅ سياسي حزب دختمولواراده نه لرو، مونږ په پراخه ټنده سياسي احزاب منواودملك په مصلحت ګڼو، دولس په خيرپي ګڼو، خوبايد سياسي احزاب سالم اومسالمت آميز ورقابتونويانديي باورولري ،اوهمدغه لار غوره کړي ، داومني چي ملت دي خپل زعامت وټاکي ،دملت داکثريت په خوښه چي کوم حکومت جوړشي دهغه په خلاف سازش ونکړي د هغه تسلط دي ومني مونږپه داسي حال کي چي دکابل دمظلوم ولس په نسبت زړه سوي لرو،دزړه له کومي نه دهغوي سره همدردي لرو،متأسف يو چي دځينوخائنانو په لاس په هغو باندي داترخي شپي اوورځي راغلي ، په کابل دا جګړه تحميل شوه ، باور لرو چي دکابل ولس اوس هم ډېرڅه کولي شي . هغه کم له کمه بايد له دغو مفسدينو نه خپل برائت اعلان کړي ،څوك چي دجنګ عامل دي او نه پريږدي چي په افغانستان کي سوله اوامنيت تامين شي ، دملت دخوښي منتخب حکومت جوړشي کم له کمه دکابل مظلوم ولس بايد خپل برائت له هغوي نه څرګند کړي ، لکه دا اوس چي په ځينو منطقو کي دکابل په ښار کي خلك

(۷)مخ

شهادت

د افغانستان دضروري درملو د ...

داکترعبدالعزیز صالح ، دافغانستان دشمالي صفحاتونه محترم داکتر عبدالسلام «عاصم» له لویدیزلورنه ،محترم داکتره رحمتي ، له ختیزو ولایتونو څخه محترم داکترشکرالله «وحیدي» دکندهار له ساحي نه محترم داکترشاولي له کابل نه سلطان علي ،دعامې روغتیا دوزارت کارکونکو اودکابل پوهنتون دطبي انستیتوت استادانو برخه اخستي وه ، دافغانستان دضروري دواګانودماسترپلان دجوړولو په باب ئي لازم تصمیمونه ونیول

خبریال زیاتوي له څوورځوبرله پسي غـونـډو څخه ددي ملـي سیمینارپرخوالوپوماسترپلان تصویب کر اویوه ګډه ١٥ کسیزه کمیټه ئي دحزب اسلامي داسلامي پوهنتون درئیس اودعامې روغتیا دوزارت دمرستیال محترم داکترفیض الله «کاکړ» ترمشري لاندي جوړه کړه چي داکمیټه به په هیواد کي دضروري دواګانوستونزي تحلیلوي اودیوه ماسترپلان په جوړولو سره به دپلان مطابق خپل کارپیل کوي اودغیرضروري دواګانواویاهغودواګانو څخه به چي له وخته نه تیري شوي، یامعتادکوونکي اویاهم نیشه لرونکي وي مخنیوي کوي .

خبریال لیکي چي دسیمیناربه آخرکي دعامې روغتیا وزیرمحترم داکتر سیدمحمدامین فاطمي دتوموري سیمینار اوترووراتلونکو سیمینارونو دارزښت په باب عالمانه اوګارخیزه ویناوکړه اودخپلو خبروپه یوه برخه کي ئي وویل لکه څنګه چي دواکسین دتطبیق په مرحله کي الله تعالي له موږسره مرسته وکړه اوموږ دخپل هیوادوالو په خدمت کي بري ترلاسه کړ همداسي له لوي خداي څخه غواړم چي ددواګانودامورو دتنظیم کارهم له بري سره مخامخ شي .

